# د عبدالحمید مومند اصلاحي شاعرۍ ته لنډه کتنه

**پوهنیار نجیب الله مخلص**

نویسنده
بدخشان پوهنتون، بدخشان، افغانستان

نشان برقی
najeebullahmukhlis۷۳۳۲@gmail.com

## لنډیز

اصلاحي او اخلاقي شاعري هم د شرقي او په تېره بیا د عربي او فارسي ژبو نه د اغیزمن شوو ژبو یو ښکاره اړخ دی. که څه هم ځیني خلك د مصلح او معلم اخلاق په حیث د شاعر د منصب ته قائل نه دي. اصلاحي او اخلاقي شاعري هم د یو شاعر د تجربو او مشاهدو د غړونو غبرګون وي او په کومه شاعري کې چې د شاعر خپلې تجربې ، مشاهدې ، احساسات او جذبات دخیل وي، دا که اصلاحي وي که عشقیه، رزمي وي که بزمي، ډېره موخنه معلومیږي. د حمید په کلام کې د اصلاحي او اخلاقي شاعرۍ یوه درنه برخه پرته ده. ریښتیا خبره خو داده، کوم حمید چي د حُسن، عشق او مینې په شان مضامین د شعرمعراج ته رسولي دي، هغه چې موږه د مصلح او معلم اخلاق په جامه کې وینو، نو موږ باید د هغه د اخلاقي شاعرۍ لوړمعیار ته هم قایل شو. که څه هم دغه مضامین کوم چې حمید په خپلو اشعارو کې بیا ن کړي دي، نورو شاعرانو هم بیان کړي؛ خو د حمید د بیان ځرنګوالی د نورو نه بېل دی. بلکې ډېر زیات زړه راښکوونکی دی.

**کارېدونکي ویي:** پت، خاکساري، ښه خوی، احتیاج، منت او خواري، خودپرستي، زورګیري او جبر.

د عبدالحمید مومند اصلاحی شاعرۍ ته لنډه کتنه

# A brief review of Abdul Hamid Momand's reform poetry

Author **Najeebullah Mukhlis**
Pashto Department, Literature and Humanities Faculty, Badakhshan University
E-Mail najeebullahmukhlis۷۳۳۲@gmail.com

## Abstract

Reformed and moral poetry is also an obvious aspect of the languages influenced by Eastern and especially Arabic and Persian languages. Although some people are not convinced of the role of the poet as a moral reformer and teacher. Reformed and moral poetry is also a response to the voices of a poet's experiences and observations, and in any poetry that includes the poet's own experiences, observations, feelings and emotions, whether it is reformed or romantic, martial or heroic, it is known to be very successful. There is a heavy part of reform and moral poetry in Hamid's speech. The truth is, Kum Hameed, who has brought subjects such as beauty, love and love to the height of poetry, we see him in the dress of a reformer and teacher of ethics, so we should also refer to the high standard of his moral poetry. Although Hamid has not repeated these subjects in his poems, other poets have also described them; But Hamid's statement is different from.others. Rather, it is very attractive

Keywords: address, sketchy, good mood, need, Ment and greed, selfishness, Coercion and coercion.

## سریزه

د حمید په اشعارو کې هر ډول اصلاحي او عشقیه مضامین شته. هغه عامې طبقې ته واعظانه خبرې هم کړې دي او د خپل دور د معاشرې انځورګري یې هم کړې ده. هغه دعامو وګړیو په عیبونو سترګې نه دي پټې کړې او د خانانو اوسردارانو په ظلم وجبر چپ نه دی پاتې شوی.

د حمید په شاعرۍ کې هم سوزښته او هم ساز. د حمیدبابا وینا د سوي زړه کوکه ده. ځینې وخت د حمید بابا اشعار د یتیم د ژړا په رنګ کې څرګند شي او کله یې د نوې کونډې شوې جینۍ د ویر او فریاد په بڼه وینو؛ کله راته داسې مسئلې بیان کړي، چې د حل کولوهېڅ ځای نه لري. هغه د اخلاقیاتو استاد دی او د تصوف د میدان اتل. هغه دعشق او عاشق مرتبه بې شانه لویه ګڼي. د ژوند په هر اړخ کې یې طبع آزمویلې ده. د خپل سپېڅلي ذهن درویشانه روش او اخلاص په برکت یې موږ ته هغه قیمتي او ژوند ښونکي درسونه د ژوند د خورې ورې پانګې نه را برسېره کړي دي، چې مونږ ته یې په ورځني ژوند بس قدم په قدم اړتیا پېښېږي. نوځکه زه دا وایم، چې حمید بابا یوازې د حسن اوعشق شاعر نه دی، بلکې یو هراړخیز شاعردی. د حمیدبابا شاعري په دوو لویو برخو وېشلی شو، چې یوې ته یې اصلاحي شاعري او بلې ته عشقیه شاعري وایي. په دې مقاله کې د حمید د اصلاحي شاعرۍ خوا راسپړل شوې ده.


## د مسالې بیان او پوښتنې

د پښتو ادبیاتو په کلاسیکه دوره کې یواځې عبدالحمید مومند اصلاحي شاعري نه ده کړې، بلکې موږ دې ته ورته نور د اصلاحي فکر شاعران هم لرو لکه شیدا، خوشال، عبدالرحمن بابا او داسې نور چې د هر یو شعر و شاعري او فکر و هنر د ارزښت وړ دی. په دې مقاله کې کوښښ شوی تر څو د عبدالحمید مومند پر اصلاحي شاعرۍ بحث وشي او دده له اصلاحي شاعرۍ سره خلک اشنا شي. دا مقاله به دې پوښتنو عبدالحمید مومند څوک و ؟ د کوم سبک پیرو و او په اصلاحي شاعرۍ کې یې د ټولنې کومې خواوې منعکس کړي دي ؟ ته ځواب ووایي.

## موخه

په کار ده، چې لوستونکي د عبدالحمید مومند له اصلاحي شاعرۍ څخه خبر شي، د هغه چا فکر او هنر وپېژني، چې ټولنه په رڼه لاره روانولای شي. کومو مواردو ته چې یې اشاره کړې ده باید خلک یې په خپل ځان کې د اصلاح په موخه راولي.

## د څېړنې شالید

تر کومه چې ماته معلومه ده تر دې دمه د عبدالحمید مومند پر اصلاحي شاعرۍ چا څه نه دي لیکلي او دا یوه نوې هڅه ده چې دده په اشعارو کې دده اصلاحي شاعرۍ ته توجه شوې ده. تر دې د مخه زلمي

هېوادمل، زیور الدین زیور، صدیق الله رښتین او نورو لیکوالانو یواځې د ده پېژندګلوي، آثار او د کلام بېلګې یې په خپلو کتابونو کې راوړي دي او د ده پر اصلاحي شاعرۍ کوم ځانګړې بحث نه لري.

## د څېړنې میتود

دغه څېړنه د کتابتونی او تحلیلي میتود له مخې تر سره شوې ده.

## د عبدالحمید مومند ژوند او حالات:

عبدالحمید مومند هم له بده مرغه د پښتو د هغو یو څو وتلیوشاعرانو په لړکې دی چې د زوکړې اومړینی ښکاره نېټې یې لا هم د څېړنې په تورو اوبوکې ډوبې دي، خو پښتوڅېړونکو بیا هم د اټکل او دقت له دواړو لاسو یو ټک غوندې ایستلی دی. مونږ د ډېرو تېرو ستومانوونکیو شاربنو پرځای یوازې د وروستیو پلټنواو یو څه منلو پایلو په توګه د زوکړې ددغی جرې مشورې سر خپلو لوستوالو ته داسې ور پرانیزو:

## ټاټوبی او زېږنځای:

د حمیدبابا د ټاټوبي اوزېږنځای په باب هم پښتانه پوهان او پښتو څېړونکي یوه خوله نه دي، خو وروستیو پلټنو په ډاګه کړې ده چې حمیدبابا د پېښورکوهاټ سړک او باړې روډ په ښی غاړه پراته کلي ماشوګګر(ماشو) کې زېږېدلی دی.

## مړینه او مزار:

تر(۱۳۳۸ هـ- ل، ۱۹۵۹- م) پورې کورني څېړونکي او بهرني ختیځپوهان، پښتوڅېړونکي اولیکوال د راوړتی د روایت له مخې په دې عقیده وو، چې ګڼې حمیدمومند تر( ۱۱۴۵-ه-ق) پورې ژوندی ؤ او یا د بلومهارت په وینا په همدغه کال مړ دی. خو د حمیدبابا د شریعة الا سلام په پیداکیدلو سره دغه عقیده واوښته او تر(۱۱۴۸- هـ ق ) کال پورې د حمید بابا ژوند یقني ثابت شو.

د حمیدبابا مزار د(ماشوګګر) په هغه لوی مړستون کې دی، چې د کلي ترخنګ د خوړ په پورې غاړه سویل ډډې ته پروت دی. په مزار باندې یې په لومړي ځل د پښتو ادبي ټولنې له خوا په (۱۹۵۷- م) او په دویم ځل په (۱۹۷۲- م) کال کې مشاعره جوړه شوه. ( حبیبي، ۱۳۲۰: ۱۴۴ )

## د عبدالحمید مومند اصلاحي شاعري

## پرځان باور او خود داري:

په ځان تکلیف تېرول او د بل نه طمع نه کول اوچا نه د مادی ضروریاتو لپاره څه نه غوښتل او دا یقین ساتل چې الله تعالی به په وخت د ضرورت د ده مرسته کوي، په ځان باورګڼلی شو. په ځان متکي شخص د چا د معمولی احسان د منلو نه په تکلیف زغملو خوښ وي، د هرچا پخپله خونه کې حرمت وئ. په دې کې هیڅ شک نه شته چې غریبي ډېر بد شی دی، خو اخلاقی جرم نه دی. څه ښکلي خبره ده چې وایي غریب چا کړم ؟ ویل خدای. ویل چې بې غیرته چا کړم؟ ویل چې پخپله. پکار ده چې انسان د ډېرسخت مجبوریت پرمهال هم په ځان اتکا وساتي. په سوال کولو د انسان وقاراوعزت نفس ختمیږي. د چا په لورد سوال لاس اوږدول د خپل عزت د تارشلول دي. حمیدبابا د هغه حیاناک دینداره او ایمان لرونکي انسان مل دی چې د خپلومتو لرې ګټې وتې ته ناست وي؛ بل ته نه د سوال لاس نه نیسی اونه ورته د خواست ځولی غوړوي اود تیارخور، بی شرمه، بې کاره او بد کرداره هم کلکه غندنه کوي.

حمید بابا پخپله هم په ځان متکي انسان معلومیږی اومونږ ته یی هم د خود داریٔ اود بل د منت نه پورته کولو درس راکړی دی:

په حیا کې سړی وړی ترږی ښه دی

نه په شهد او شکر موړ په بد رسوا

٪٪٪٪٪

دهغه د لاس اوبــــــــه د حیات مه څښنه

چی آخر یې لاندې کېږې ترمنتــــــــــه

٪٪٪٪

وږی ترږی ناست په خپل انډیري ښه یې

نه په تخت دپاسه ناست دبل کــــــــــره ( سایل، ۱۹۸۵: ۱۳۴ )

## قناعت اواستغنا :

قناعت او استغنا د انسان هغه صفت دی چی د دنیا د دولتونو او رغبتونونه یې بې پرواکوي. قناعت خوښوونکی او مستغني شخص که د وښوپه جونګړه کی هم ناست وي، نو داسې ګڼي لکه چې په تاج محل کښې ناست وي. د دنیا ټول نعمتونه د ده د یوی اشارې په تمه وي. د خدای په ورکړه مننه کول، په خپله برخه صبرکول اوحلال رزق ګټل، د فقرهغه توکي دي چی انسان د مادی ترغیباتو اود نفس د وسوسو له بنده آزادوي. باید چی مونږ د حضورپاک حضرت محمد "ص" په دی وینا عمل وکړو چی (الفقرفخری )ــ حمید بابا یومستغني اوقناعت خوښوونکی سړی و. هغه هم په خپله هم د جهان د دولتونو نه بې پروا وو

او موږ ته يې هم د قناعت او استغنا ويناګانې کړې دي. هغه که د دولت اړتيا حس کوله، نو د دې لپاره چې له ښکلو دلبرانو يې صدقه کړي. په دې هکله څومره ښکلې وينا کوي:

اضطراب د حرص مې لرې کړې له زړه نه

قناعت قوي لنګر ددې جــــــــهــــــاز را

*****

قناعت راته عطا کـړې زما ربـــــــه

ورک زما حـرص وهـوا کړې زماربه

*****

قناعت هسې دولت و حميد ورکـــــړه

چې بادشاه ګڼي تر ځان بې نــــــوا

قناعت مې اشتها کړه هسې صافـــه

چې اوګره راکويخوند لکه حـــــلوا ( مومند، ۱۳۶۳: ۱۵۵ )

## کمینی اوخاکساري:

ښکاري چې حمید بابا په خپله هم خاکساره اوخاک نشين سړی وو. ځکه يې د خاکسارۍ اوعاجزۍ مضمون ډېرخوښ دی. د خاکسارۍ په خوند چې څوک پوه شوي دي، هغوی د شاهانو په کړو وړو پورې خندا کوي. د خاکسارانو زړونه که څه هم ظاهراً خيرن وي، خوپه باطن کې تک سپين وي. خاکسارانوته په سپک نظر کتل نه دي ړکار. ځکه چې په دغه خړو پړو بندګانو کښې داسې شهسواران هم پيدا کېدای شي چې په يوقدم ترعرشه پورې رسي.څومره ښايسته وايي د پښتوادب د تصوف پلارحضرت رحمن بابا:

چې په يوه قدم ترعرشه پورې درومي

ما لـــيدلی دی رفتار د درويشـــــــــانو

ترکومه چې زموږ د اوسنۍ کورنۍ سره تړاو لري، هغوی خاکساري د مجبورۍ ژوند ته وايي اود تکلف ژوند د سادګی نه دومره غوره ګڼي چې حتې د دوی ترمنځ مقابله هسې خوشي چټي خبره ګڼي. خاکساران په خپله دنيا کې بې تخته او بی تاجه باچاهان وي:

لــــوی کمال دی کميني دآدم زادو

پاتې نه شي بې نصيب له دې شرف

Pamir Academic & Research Journal - مجله علمی تحقیقی پامیر – دپامیر علمي څېړنیزه مجله

*****

چې په اصل يې له خاورو پيداشوی

ولې ننګ له خاکساري کړي ناخلف ( مومند، ۱۳۸۳: ۱۷۸ )

ښه خوی :

پښتو متل دی چې وايي: خپله ژبه هم کلا ده هم بلا . په خوږه خوله خلک مارهم له سوړې نه راباسي. خوپه ترخه خوله شوی کارهم خرابيږي. د يوه انسان د سرېتوب د ښکلا اونيک نامئ انحصار د هغه په ښه خوی او رفتارکې وي. د ښه خوی دارمدار په اخلاص، مېړانې او روږ تندي کې وي. د هر چا هدف د خپل هدف نه وړاندې ګټل کيږي اوپه اخلاص سره له کومې تمې او حرص پرته د بل لاس نيوی د يوانسان هغه ښېګڼه ده چې له کاڼي سخت زړه هم اوبوي اوکه موږ د ژوند ژواک په هر اړخ د اسلام په ټاکلو شوو اصولو عمل اوکړو، نو دا ګواکي زموږ لپاره د ښه خوی عملي روزنهده. حميد بابا موږ ته په په ډېره ښکلي طريقه د ښه خوی درس راکوي.

پـــــــــــــه هغه لکـــه مچان خلق بنيږي

چې په خــــوله کې غړوي نباته ژبه

*****

چې يې ږدې په خــوارِه ژبه وميلمه ته

سپور سوکړک دحميد نيو شي په چوری ( مومند، ۱۳۸۳: ۱۸۹ )

## منت اوخواری :

منت اوعزت، منت اوسُرخ رويي، منت اوعظمت اومنت اوکاميابي داسې الفاظ دي چې له يوبل سره يې ټينګه اړيکه ده اويو لفظ دبل نه سېوا نامکمل دی. خلک په منت اوهمت آسمان ته هم د ختلولارې جوړوي. اوکه آسمان يې د زمري په خوله کې ورکړي، نود زمري په خوله کې هم همت نه پريږدي. الله "ج" هم موږ ته په واضحو ټکو کې داوينا فرمايلې ده چې هرانسان ته هم هغومره په لاس ورځي، د څومره چې هغه کوشش کوي. منت اوخواري کول يا په خپل لاس کار کول څه د عيب خبره نه ده. کله چې څوک له ځايه نه خوځي اوپه منت او مشقت کولو کښې خپله بې عزتيويني، نوبيا دغه بنده د ژوند له مقصد نه خبرنه دی. نن اساني اوسهولت د ټولو بديو جرړې تشکيلوي. نو له همدې امله خولې غوايان په قصابانو خرڅول کيږي. حميد بابا په منت، خوارئ اومشقت کولو ډير ټينګار کوي، ځکه چې منت د مستقبل د کاميابی ضامن دی:

چې تېاکې د منت لري په لاس کښې

هغـــــــــــــــه نه ګوري په ځله دګوهر مخ

«««««««

په منت سره ټوک سرې پروت ښه شي

نـــــــه ولاړ پـــه دروازه د يـــــــوه ټـــــــوک

««««««

هغه تشې شلومبې شاربـــــــــــې سرخوړې کا

چې ښادي غواړي بې غـــــــــــمه بې منته

بې منت پولاؤ د زهرشه چې يـــــــــې مومي

د منت سوي سوکړک دساګ ســـــــــــــــره ( مومند، ۱۳۸۳: ۱۹۰)

## پت او پښتونولي :

حميد بابا که حسن ته ټينګی نه دی يا دعشق اورونو سوی دی، خوفطرتاً پښتون دی اود پښتونولی د رسم او رواج پابند دی. د پښتونولۍ جزبه يې په رګونو کې په ځپو ده. نه د مال پروا کوي اونه د ځان. نه د سر پروا لري اونه هم د تن. حميد بابا خپل ځان په وينو کې لت پت ليدلی شي، خو د بې پتۍ داغ په ځان نه لګوي – ځکه چې د بې پتۍ داغ پښتون د مرګ نه کم نه ګڼي:

ځـــــــان به مړدعشق په ځېل کړمه ناصحه

وابـــــــه نه وړم زه حميد هسې پښتون يم

*****

پروت په وينو کې لت پت ښه يم په پت کې

نه دســـــــــــــــروزروپه تخت باندې بې پته ( مومند، ۱۳۸۳: ۲۱۱)

## د دنيا نا پايئداري :

Pamir Academic & Research Journal - مجله علمی تحقیقی پامیر – دپامیر علمی څېړنیزه مجله

د دنیا نا پایداري د مذهب موضوع هم ده اود شعر او ادب موضوع هم. دې کې هیڅ شک نشته چې په دنیا کښې زمونږ استوګنه لنډمهاله او موقتي ده؛ ځکه چی دا دنیا فاني ده، انسان فانی دی، او د دنیا په ستیج دا رنګارنګ لوبې او ډرامې ټول یوه ورځ ختمېدونکي دي. نو د دې لپاره هر انسان ته پکار دي چې په فاني دنیا پورې زړه ونه تړي او د دې بنده په څېردې یوه پښه په بله واړوي او هیڅ کسب او کاردې نه کوي. یوازې په دې خیال چې ګواکې دنیا هسې هم تیریدونکې ده، مرګ خوبالاخره راتلونکی دی. نو بیا کار څه له کوو .دا دژوند فلسفه د انسانی ژوند فلسفه نه ده او نه دعافیت په یوه ګوټ کې کیناستل د ژوند مقصد دی. پکارده چې د ژوند مقصد لوړ په پام کې ونیول شي ترڅوچی انسان کوم مقصد لپاره دی نړۍ ته راليږل شوی دی. هغه مقصد ترسره کړي په دې باب حمید بابا وایي:

نه زما ده نه د ستا ده دا دنیا

پاتې شوې له هر چا ده دا دنیا

بیهوده یې زړه تړی په ډنګ ډوګ پورې

د ګړی میلمنه ورا ده دا دنیا

«««««««««««

## د زر پرستۍ غندنه:

مورږ چی د ژوند په هر ګام له کومې نا کرارۍ سره مخامخ یو، د دغه ناکراري سبب زر پرستي ده. مورږ هغه شخص هوښیار ګڼو چې په هره جایزه اونا جایزه لاره مال او شتمني لاسته راوړي. مورږ د شریف کلمه هم دهغو کسانو لپاره کاروو‌چی زیات شتمن وي. همدا لامل دی چی د زرپرستۍ هوس هر انسان دېته اړباسي چی لا پسې زیات اوډېرمال پیداکړي او ځان د شریفو کسانو په کتار کې شامل کړي. مورږ هم د خپل ژوند مقصد د دولت لاسته راوړنه ګڼلی دی. دا سمه ده چې دولت خراب شی نه دی، خوغلط استعمال یې د ټولو خرابیو مور ده. حمید بابا د مال راغونډولو غندنه کړې ده او په ښکاره ټکو کې یی ویلی دي چی دولت د شرافت او لویی معیار نه دی. د یو ورږ سترګي شتمن نه هغه غریب ډې ښه دی چی دوه وخته سکړک دساګ پیتي سره خوري. د شتمن سړي چې څومره مال زیاتیږي هغومره یې غم هم زیاتیږی – غریب د شړۍ فکر کوي اومال دار د زربفتو او کمخوابو فکرونو وړی وي. غریب د ګلیم غم خور، خو شتمن د اقلیم.

د قارون د بد بویی مې خواګهیږي

ځکه تو کړه ددنیا په سیم وزر ما

څه لويي په ما حميد څوک په دولت کا

چې شميرلی دی دولت په کوز خرما

د زخمي چې زوې درومي ارام مومي

ته په تله د دې دنيا کړې واويلا

حميد بابا په دی راز خبرؤچې څوک شپه په شپه شمتن شي، نو داسې دولت په لاس کې نه ايساريږي چی څنگه زر راغلي وي همغسې زر په منډو ځي:

چــــــــې يو وخت په زر زر وو درغلي

زر په زر به د دغه دولت نقصان خــور ( مومند،۱۳۸۳: ۲۷۷)

## د نفس پرستې غندنه:

نفس پرستي يا د نس په لاره تلل څه ته وايی؟ موږ د هغه خواهشاتو تسکين چی موږ د سمې لارې نه په غلطه لاره بيا يي، نفس پرستي گڼلی شو. د نفس پرستی دلاسه ډير سترگه وراشخاص هم د تباهی کندو ته پريوتي دي اولاهم لگيا دي پريوځي. د نفس پرستی په دام کې گير شوي کسان د ښه اوبد توپير نه شي کولای. زموږ اکثريت خوري او تربوري د همدې دام له امله راولاړيږي. د نفس پرستی غټ لعنت خو دادی چې نفس هېڅکله هم بس نه وايي او هره لحظه نوې نوې غوښتنې کوي. د نفس غوښتنې نه خو چا پوره کړې او نه يی څوک پوره کولای شي. د نفس چې کله چا منلې، هغوی نه يوازې دا چې د تل لپاره د ذلالت کوهي ته پريوتي او رسوا شوي دي بلکې د دنيا له مخ نه يې نښان داسې ورک شوی لکه د خره د سر نه ښکر. حميد بابا نفس پرستي په سختو ټکوکې غندي او وايي:

د هر چا چې شي مفتي نفس و هوا

ناروا شي د جهان ورتــه روا

نفس شيطان چې د چا بد تر فهمه ښه کا

هسې خوري زهر قاتل لکه حلوا

کوږ او روند کـړي هسې رنگ نفس وهوی

چی لړي سره روا او ناروا

نه به ته سرکشه نفس په بدو موړکړې

نه به شي زهر قاتل د چا دوا

## احتياج :

مجله علمی تحقیقی پامیر – دپامیر علمی څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

احتياجي بده بلاده او چې څوک بل ته محتاج شي، نو واک اختيار يې هم د بل شي اود بل په ډېوه ګرځي. که يو انسان د ډېرو ښو خصلتونو خاوند وي، خو چې محتاج شي نو قدر او قيمت يې را ولوېږي، سپک شي او د خلکو د خندا شي. ځکه هوښياران وايي ( تشه لاسه، ته مې د ښمن يې):

څه بلايې احتياجه

چې سـړی کړي سګ مزاجه

مســلمان هندوروش کړي

او هنــدو مسلم رواجه

وشــاګرد وته استاد کړي

سپک بې قدره تر زجاجه

او بيا دمينی محتاجي خو د عامې محتاجۍ نه هم ډېره بده ده:

دا همه واړه دمينی محتاجی ده

چی هلک ته سپينه ږيره بابا وايم

په دی کې هيڅ شک نه شته چی څوک هم په هرڅه پوره نه وي خو د سوال ځولی چاته غوړول هم بده خبره ده. ( مومند، ۱۳۸۳: ۲۸۹)

## زورګيري او جبر :

حميد بابا په زورګيرۍ او جبر هم ډير بد ويلي دي اوهغه ظالمانو ته يې خبر ورکړی دی چې پردي مالونه دې په زور نه خوري، که نه نويوه ورځ به يې په نس کې اړم شي. مظلوم که د خپل حق مرسته نه شي کولای خو د آه غشی يې آسمانونو ته نيغ رسي. وايي چې له آزاره چا بازار موندلی نه دی؛ په چا زور زياتی کول او د بل حق د مټو په زور رانيول د مړانې کارنه دی. د ازغو د کشت نه چا د ګلو ځولی نه ده ډکه کړې او چې کوم سر د پيزارو سزاوار وي، زمانه په هغه سر کله هم ګلو نه ږدی:

چې دظلم په کمر دې تل ميدان خوږ

دماغي په ځان غـره خود به د ځان خوږ

\\\\\\\\

د مظلوم د آزار غشی رسا لګي

هيڅ ګوذار يې خطا نه درومي عبس

هر سړی چی له ازاره بازار غواړي

ددارو په طمع زهر خوري ناکس

## طمع او حرص :

طمع او حرص دواړه داسې کلمې دي چې په خپله یې هم ځولۍ تشه ده او که څوک د چا نه څه طمع وکړي نو تش لاس به ورنه ځي. طمع او حرص د انسان عزت او غیرت داغ دار کړي او فکر یې فلج کړي. اراده یې د عمل نه مخکې مذبذبه کړي، طمع او حرص د انسان تعمیري صلاحیتونه د تخریب په لور بیایي. د هغه مثبت فکر بدل کړي او په بله - بله یې سر کړي. د طمع او حرص طوق چې د چا په غاړه کې پریوتی دی، نو تل نورو خلکو لکه د بیزو په ځان پسې راکښلی دی. په دی باب حمید بابا وایی:

چې سړی له ســــــړي کړي ددنیا طمع

سړیتوب به سپي توب شي په دا طمع

د دانې په طمع بند آزاد مرغی شي

زر به ستا په ځان بلا شي د ستا طمـــع

پردی پریږده که په قطع موراوپلار وی

د هیـــــــــچا و چا ته مه شه پیدا طمع

د دغې طمعې طاعون ښه دی حمیده

چې کوې دنــــــــــس دپاره له چا طمع ( مومند،۱۳۸۳: ۲۹۳)

## پایله

د حمیدبابا د کلام په لوستلو سره سړی دې پایلې ته رسېږي چې د حمید په کلام کې د شدت یو راز، یو احساس او د درد ډېر ژور اور لګېدونکی اغېز لیدل کېږي. د ده په کلام کې یو راز ستړیا، زړه وړونکې طنزیه خوش مزاجي مینډل کیږي. په دی کې شک نه شته چې حمیدبابا د رنګین بیانۍ آغاز کړی دی، مګر دده په کلام کې د رنګین بیانی سره سم ساده ګي هم موجوده ده؛ بلکې د رنګینۍ او ساده ګی مجموعه ده.

لنډه دا چې حمید کوښښ کړی دی، تر څو د ټولنې هرې خوا ته پاملرنه وکړي او د ټولنې د ولس هر درد او رنځ ته درمل پیدا کړي. همدې موخې ته د رسېدا لپاره یې په خپلو رنګینو الفاظو کې یو لړ اصلاحاتو ته اشاره کړې ده. ولس یې په دې قانع کړی دی چې عاجزي، خاکساري، صبر، تحمل، بردباري، قناعت او

مجله علمی تحقیقی پامیر - دپامیر علمي څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

استغنا هغه ښه خویونه دي چې انسان د سرلوړي او کامیابي پر لور بیایي. برعکس ځان ښودنه، کبر، غرور، غفلت، بې صبري، لویي او پر نورو تکیه کول هغه بد خویونه دي چې د انسان د تباهۍ او بربادۍ سبب کېږي.

## اخځلیکونه


حبیبي، عبدالحی. ( ۱۳۲۰هـ ش ). پښتانه شعراء لومړی ټوك. کابل: دولتي مطبعه.

سایل، خواجه محمد. ( ۱۹۸۵ع ). عبدالحمیدبابا. پېښور: عظیم پبلیشنك هاوس.

مومند، عبدالحمید. ( ۱۳۸۳هـ ش ). د حمید یاد دمقالو ټولګه. کابل: دولتي مطبعه.

مومند، عبدالحمید، ( ۱۳۶۳هـ ش ). حمید دیوان. کابل: پښتو ټولنه دولتي مطبعه.

مومند، عبدالحمید. ( ۱۳۸۳هـ ش ). د حمید کلیات. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

Pamir Academic & Research Journal - مجله علمی تحقیقی پامیر - دپامیر علمی خیړنیزه مجله